قيامت به تر هغه وخته نه راځي تر څو چې لمر له لوېديځ څخه راختلی نه وي، نو کله چې راوخېژي او خلک يې وګوري ټول به ايمان راوړي

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «قيامت به تر هغه وخته نه راځي تر څو چې لمر له لوېديځ څخه راختلی نه وي، نو کله چې راوخېژي او خلک يې وګوري ټول به ايمان راوړي دا نو بيا هغه وخت دی چې : {لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ، أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا}[الانعام: 158]، يعنې هيڅ نفس ته به يې ايمان ګټه ونه رسوي پداسې حال کې چې مخکې لدې يې ايمان نه وي راوړی، او يا يې په ايمان کې نيکي نه وي کړي. او خامخا به قيامت پداسې حال کې راشي چې دوه سړيو به خپلو کې جامه (رخت) د خرڅلاو لپاره خپور کړی وي، نو راکړه ورکړه به يې تر منځه ونه شي او نه به يې بېرته راټول کړای شي او خامخا به قيامت په داسې حال کې راشي چې يو سړي به د خپلې اوښې شبدې - رالوشلې وي - نو وبه يې نه څښي، او خامخا به قيامت پداسې حال کې راشي چې يو سړي به خپل د اوبو ډنډ اخېر کړی وي نو اوبه به تري و نه څښي، او خامخا به قيامت په داسې حال کې راشي چې يو سړي به مړ خولې ته پورته کړي وي خو وبه يې نه خوري».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت له لويو نښو څخه يوه دا ده چې لمر به د ختيځ پر ځای له لوېديځ څخه راوخېژي او کله يې چې خلک ووينې نو ټول به ايمان راوړي. نو دا مهال به بيا کافر ته د هغه ايمان ګټه ونه رسوي او نه به نيک عمل يا توبه ګټه ولري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې قيامت به ناڅاپه راځي؛ تر دې چې پداسې حال کې به قيامت راشي چې خلک به د خپل ژوند په - عادي - چارو کې بوخت وي؛ نو پداسې حال کې به قيامت شي چې پلورونکي او پېرودونکي په خپلو منځونو کې خپل کالي خپاره کړي وي، نو نه به يې خرڅ کړي او نه به يې راټول کړای شي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به د خپلې اوښې شبدې په لاس کې نيولي وي نو وبه يې نه څښي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به د اوبو ډنډ جوړ کړی او اخېر کړی وي نو اوبه به تري ونه څښي، او پداسې حال کې به قيامت شي چې يو سړي به مړ خولې ته پورته کړي وي تر څو يې وخوري خو وبه يې نه خوري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65026